**د نړۍ په تر ټولو ستر اقتصادي قدرت بدلیدونکی هېواد**

د نړۍ د اقتصادي پرمختګ په لړ کې چې ډېری هېوادونه یې پر وړاندې سیالۍ ته را وتلي، یو هم د چین هېواد دی. اټکل کېږي چې تر ۲۰۲۸ زیږدیز کال پورې به چین د نړۍ ستر اقتصادي هېواد شي او د امریکا ځای به ونیسي، امریکا دا مهال د نړۍ ستر اقتصاد لرونکی هېواد دی.

یوې څېړنیزې ادارې چې د اقتصاد او سوداګرۍ په برخه کې کار کوي او مرکز یې په بریتانیا کې دی، په یوه راپور کې ویلي چې د چین هېواد له لوري د کورونا د مخنیوي مدیریت په ښه ډول تر سره شوی دی او دا لامل شوی دی چې د چین اقتصادي وده د امریکا او اروپایي هېوادونو په پرتله چټکه وده وکړي.

چین هڅه کوي چې د نړۍ د هېوادونو تر منځ په اقتصادي او نورو ډګرونو کې تر ټولو مخکې شي او ستر اقتصادونه تر شا کړي. که څه هم چین په دې برخه کې له دې وړاندې بریالی ؤ، خو په دې وروستیو کې یې دا هڅې لا ګړندۍ شوې دي او اقتصادي وده یې چټکه شوې ده.

کورونا تر ټولو مخکې په چین کې خپره شوه او د دغه هېواد چارواکو په مناسب وخت د کورونا د مخنیوي لپاره اړین ګامونه پورته کړل اوپه پایله کې یې دا هېواد د دویم ځلي قرنطین څخه خوندي کړ.

د کورونا د مخنیوي ښه مدیریت، د دې لامل شو چې د نړۍ د لویو اقتصاد لرونکو هېوادونو په پرتله چین د ۲۰۲۰ کال په اوږدو کې ځان له ځپ ځپاند حالته وژغوري او اټکل کېږي چې د دې هېواد وده به دوه سلنې ته ورسېږي.

تر لاسه شوې شمېرې ښیي چې د امریکا متحده ایالتونه بیا د کوویډ – ۱۹ له کبله په ټوله نړۍ کې تر ټولو سخت ځپل شوی هېواد دی، چې د دغه ناروغۍ له امله د ۲۰۲۰ زیږدیز کال د ډسمبر د میاشتې تر پایه پورې ۳۳۰ زره کسان په کې له همدې ناروغۍ مړه شوي او ۱۸ نیم میلیونه کسان یې پر دې ناروغۍ اخته شوي دي.

په امریکا کې د کورونا د خطرونو په پایله کې د مالي مرستو پر سر، سیاسي اختلافونه ښایي په دغه هېواد کې د دې لامل شي چې۱۴ میلیونه بې روزګاره امریکایان په نوي کال کې له مالي مرستو محروم شي.

په ۲۰۲۱ زیږدیز کال کې به له کورونا وروسته پیاوړې بیا رغېدنه د دې لامل شي چې د امریکا اقتصادي وده له ۲۰۲۲ تر ۲۰۲۵ پورې هر کال یو اعشاریه نهه سلنه وده وکړي او له هغې د وروسته کلونو په اوږدو کې به لږه راټیټه شي.

خو د چین اقتصاد به تر ۲۰۲۵ پورې هر کال پنځه اعشاریه اوه سلنه وده وکړي او له ۲۰۲۶ تر ۲۰۳۰ پورې به هر کال یو اعشاریه شپږ سلنې ته لوړه شي.

په نړیوال اقتصاد کې د چین ونډه په۲۰۰۰ زیږدیز کال کې یوازې درې اعشاریه شپږ سلنه وه، خو اوس دغه کچه ۱۷ اعشاریه اته سلنې ته رسېدلې ده او تر ۲۰۲۳ پورې به دغه هېواد ( لوړ عاید لرونکی) اقتصادي ځواک شي.

د یادونې وړ ده چې که د چین هېواد په نړۍ کې له اقتصادي پلوه لومړی ځای هم خپل کړي، خو د اوسط امریکایي وګړي پرتله به د چین د هر اوسېدونکي عاید څکه لږ وي، چې د دغه هېواد د ټولو وګړو شمېر د امریکا د ټولو وګړو په پرتله څلور برابره ډېر دی.

د چین هېواد د پیسو د ارزښت ټیټوالي، د کارګرو د کار کولو د اجورې د کچې کموالی او په یاد هېواد کې ځینې نورې آسانتیاوې د دې لامل شوې دي چې اقتصادي وده یې چټکه شي او د نړۍ سترو اقتصادي قدرتونو په پرتله ښه اقتصادي وده وکړي.

دا مهال د نړۍ ډېری لویې او پېژندل شوې کمپنۍ په چین هېواد کې فعالیت لري او د نړۍ ډېری هېوادونو ته د یاد هېواد د صادراتو لړۍ غځېدلې ده.